**د پښتو ادبیاتو په وده کې د برېښنایي او ټولنیزو رسنیو ونډه**

څېړونکی: پوهنمل تاج محمد رحیمي

**لنډیز**

برېښنایي یا ټولنیزې رسنۍ د نوي عصر او تکنالوژۍ هغه مهمې وسیلې دي، چې په ډېره کمه موده کې یې د نړۍ پر هر گوټ خپل سیوری غوړولی دی.د نړۍ په هره برخه کې مینه وال لري.دا ټکنالوژي په ډېر کم وخت کې د ډېرو خلکو د پام وړ وگرځېده. د برېښنایي رسنیو له لارې په لږه موده کې ډېر معلومات تر لاسه کېږي.د همدې برېښنایي او ټولنیزو رسنیو په مرسته په لکونو کتابونه، مقالې، لیکنې او معلومات خپرېږي او په لکونو لوستونکي او معلومات غوښتونکي ترې خپله برخه گټه اخلي. پخوا چې برېښنایي رسنۍ نه وې، نو په ژوند کې پرمختگونه هم ډېر کم و. معلوماتو ته د خلکو لاس رسی په نشت حساب و. له نوې نړۍ څخه خلک ناخبره او ټکنالوژي یې نه پېژندله، خو چې په نړۍ د ټکنالوژۍ سیوری وشو او د خلکو غوښتنې زیاتې شوې، نو ټکنالوژي هم پرمخ ولاړه. ویلی شو چې برېښنایي رسنیو او په ځانگړې ډول ټولنیزو رسنیو د ادب په وده کې مهم رول لوبولی او اوس یې هم لوبوي. په برېښنایي رسنیو کې اسلامي،فرهنگي، ادبي ،ټولنیزې،سیاسي او د ژوند نورو برخو پورې تړلې ټول موضوعات راټول او خلکو ته وړاندې کېږي.

**سریزه**

کله چې نړۍ د پرمختگ په لور گامونه پورته کول پیل کړل، هره ورځ نوي پرمختگونو ته مخه خلاصه شوه. که له چاپي رسنیو راتیر شو، چې د ادب په وده کې یې څومره رول لوبولی، نو خبره برېښنایي رسنیو ته راځي او د چاپي رسنیو پر نسبت برېښنایي رسنیو ادب ته ډېر څه ورکړل. د راډیو یا غږیزه رسنۍ منځ ته راتگ سره ، د خلکو تنده دومره زیاته شوه، چې په ډېر کم وخت کې یې ډېر څه ترې واوریدل. راډیویي تمثیلونه، ډرامې، ادبي او فرهنگي خپروني او شعرونه یې د نړۍ لرې پرتو سیمو ته ورسول،دا هغه وخت وو، چې لا راډیو عامه شوې نه وه او په افغانستان کې یوازې یوه راډیوه وه، چې هغه هم د دولت ملکیت و، خو په یویشتمه پیړۍ کې د غږیزو رسنیو بار دومره دروند شو، چې په هر ولایت کې په لسگونو راډیوگانې جوړې شوې، چې په ولایتونو کې کلي په کلي یې غږ بدرگه شو. محلي راډیوگانو دیني او ټولنیزو خپرونو ترڅنگ ادبي، فرهنگي او شعري خپرونو ته زیاته مخه کړه. ناولونه، لنډې کیسې، ډرامې، تمثیلونه، ادبي ټوټې، شعرونه او نورو ادبي موادو خپرولو کې یې پوره ونډه واخیسته. د همدې راډیویي خپرونو په مرسته په لرې پرتو سیمو کې ځوان نسل هم ادب ته مخه کړه او هم یې زده کړو یا تحصیل ته.

د ټکنالوژۍ او برېښنایي رسنیو په څنګ کې نور پرمختگ وشو، انځوریزې رسنۍ یا تلویزون میدان ته راکوز شو، هغه څه چې راډیو په غږونو ک[illegible] [illegible] کې هم خپره [illegible] .ډرا[illegible] سریالونه، فلمونه، دیني او ادبي خپرو[illegible] ادب له تیر بهیر او فرهنگ څخه د خلکو خبرولو په لړ، کې نور پرمختگ وشو او د لرو پرتو سیمو خلک یې د نړۍ له هر تحول څخه خبر کړل، خو خلکو په دې هم بسنه ونکړه، د برېښنایي رسنیو د پرمختگ په لړ کې، ډېرې ټولنیزې رسنۍ لکه: فیسبوک، یوټیوب، انسټگرام، ټیلگرام، ټک ټاک، ټویټر، چټ جي پي ټي،سپیس، وې لاگونه.... او نور ډېر پرمختگونه وشو او پر نړۍ یې خپلې وزرې داسې خپرې کړې، لکه باز چې یې په خپل ښکار غوړوي. ټوله نړۍ یې تسخیر کړه، نوي پرمختگونو ته یې لاره هواره کړه. د همدې ټولنیزو برېښنایي رسنیو پر مټ ځوان نسل ته د پرمختگ لاره هواره شوه، د ادب په برخه کې د څېړیدو تیزوالی راغی، ادبي بحثونه، بندارونه او فرهنگي غونډې په انلاین یا برېښنایي بڼو پیل شوې او له ادب څخه او په ځانگړي ډول د پښتو ادب څخه نړۍ کې خلک خبر شول، ادب ته یې وده ورکړه.

برېښنایي یا ټولنیزې رسنۍ د نوي عصر لپاره نوې وسیله ده،د دې لارې د نړۍ په هر گوډ کې د هرې ټولنې او فرهنگ خلک وړې او لویې لیکنې، وړې تمثیلي ویډوگانې، ادبي او فرهنگي معلومات خپروي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله،چې ژوند پرمختګ کوي،نړۍ ورسره پرمخ ځي او خلک له نويو شيانو سره مخ کېږي،چې يوه ښه بېلګه يې برښنايي او ټولنيزې رسنۍ دي، چې د ژوند هره برخه په کې رانغاړل کېږي.ډېرى تنکي ځوانان په دې برخه کې کار کوي.پښتو ادب ته يې دا ګټه ده،چې د دې لارې د ليکنو او ويډيوګانو، تمثيلي ټوټې او نور غوره ادبي موضـــوعات په خپله لمن کې رانغاړي. د پښتني کلتور او فرهنګ هر شکل او فورم رانغاړي او ثبت پاتې کېږي.دې نوې عصري وسايلو په ادب خپلې مثبتې او منفي اغېزې هم کړي،ځينې ځوانان يې په مثبته توګه کاروي او ټولنې ته يې ګټه وي،خو ځينې داســـې ځوانان او پېغلې شــته،چې د همدې لارې د نورو ســـپکاوى او توهين کوي او خلکو ته کنزلې او بدې ردې وايي،چې دا يې منفي اغيز دى. ددې لامل دا دى،چې څوک نشته،چې برښنايي يا ټولنيزې رسنۍ په سمه توګه کنټرول او مديريت کړي، نو ويلى شو، چې د برښنايي او په ځانګړي توګه ټولنيزو رسنيو د ادب د ودې په برخه کې ډېر مهم رول لوبولى او لا يې هم په وده کې ونډه اخلي.

**کليدي کلمات:** برښنايي، ټولنيزې، ادبيات، ټکنالوژي، فيسبوک، يوټيوب، ټويټر

**د څېړنې اهميت او مبرميت:**

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دى،چې په دې موضوع تر اوسه په منظم ډول چا کار نه دى کړى.دا په زړه پورې موضـوع ده.په دې څېړنه کې د برښـنايي او ټولنيزو رسـنيو په رامنځ ته کېدو،د ځوانانو ونډه او پر ادب او ټولنه يې اغېزې ،دا ټول موضوعات په کې څېړل شوي دي.د دې موضوع بل اهميت دا دى،چې په راتلونکي کې به ځوانان وکولى شي له ټولنيزو او برښنايي رسنيو څخه سمه او مثبته ګټه واخلي او له ناوړه اغېزو به يې په امان کې وي.

**د څېړنې موخې.**

د دې څېړنې موخې دا دي،چې څنګه کولى شــو د برښــنايي او ټولنيزو رســنيو له پرمختګ څخه خپله ټولنه خبره کړو او په سمه کارونه يې پوهه کړو. هغه کليوالي او ولسي ادب،چې د ورکېدو په حال کې دى،د همدې وسيلو په مرسته ثبت او خپاره کړو،څو نور په نړۍ کې ترې نورخلک هم خبر شـــي.بله موخه يې دا ده،چې په دې برخه کې نور ډېر کار ته اړتيا ده،چې په راتلونکي کې وکولى شو له همدې لارې پښتو ادب ته ډېر نوي شيان ورداخل کړو.

**د څېرنې پوښتنې:**

- کومې رسنۍ برښنايي دي؟
- ايا برښنايي او ټولنيزې رسنۍ د ادب په وده کې رول لري ؟
- د برښنايي او ټولنيزو رسنيو د رامنځ ته کيدو اړتيا څه ده؟

**د څېړنې ميتود او کړنلاره:** د دې ليکنې بنه ويډيويي،انټرنيټي او کتابتوني ده. د تشريحي، توضيحي او تحليلي ميتود څخه کار اخيستل شوى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د برښنايي او الکترونکي رسنيو پيژندنه

د موضوع په دغه برخه کې به لومړی د برښنايي او ټولنيزو رسنيو لنډه پيژنده وکړو،چې کوم ډول رسنيو ته برښنايي او ټولنيزې رسنۍ ويلی شو.

**د برښنايي رسنيو پيژندنه:**

هره هغه رسنۍ يا وسيله چې د برښنايي اړيکو په پروسه کې کارول کيږي لکه: راډيو، تلويزون، تيليفون، فيسبوک، ټک ټاک، يوټيوب، انسټګرام، ټيلګرام.... او داسې نورې وسيلې برښنايي او ټولنيزې رسنۍ بلل کيږي. برښنايي رسنۍ د برښنايي څپو پر مرسته اوريدونکو او لوستونکو ته معلومات رسوي. بريښنايي ټولنيزې رسنۍ دوه اړخيزه ټيکنالوژي ده، چې د مجازي ټولنو او شبکو له لارې د معلوماتو، نظرونو، ذوقونو او خوښو او د بيان نورو ډولونو رامنځته کولو او شريکولو لپاره اسانتياوې برابروي.

د ټولنيزو يا برښنايي رسنيو کارن يا کاروونکي خپل معلومات، پوستونه، تبصرې، برښنايي انځورونه او ويډيوګانې او نور مواد په انلاين بڼه چمتو او خپروي.(۶)

کاروونکي معمولا د ټولنيزو رسنيو خدمتونو ته د اينټرنيټي اپليکيشنونو له لارې يا د ډانلوډ خدمتونو له لارې چې د دوی ګرځنده وسيلو (لکه ځيرکو موبايلونو او ټبليټونو ته) په ټولنيزو رسنيو کې د فعاليت زمينه برابروي. کله چې کاروونکي له دغو برېښنايي خدمتونو سره مخ کيږي، ګټه ترې اخلي او د نورو پرمختګونو په اړه فکر کوي.

دغه راز، برښنايي يا ټولنيزې رسنۍ د خاطراتو او يادونو د مستندولو، د بېلابېلو ځيزونو د زده کړې او سپړنې، ځان مشهورولو(advertise oneself) ، او د بلاګونو، غږيزو فايلونو، ويډيوګانو، او د ګېمونو اړوند سايټونو د جوړولو له لارې د نظرياتو له پراختيا سره د ملګرتياوو جوړولو لپاره کارېږي( ۸)

د برښنايي او ټولنيزو رسنيو ځينې خورا مشهور وېبسايټونه چې تر ۱۰۰ مېليونه زيات راجستر شوي کاروونکي يا کارنان لري، عبارت دي له: ( راډيو او ډولونه يې ، تلويزون او ډولونه يې فيسبوک، مسنجر، ټيک ټاک، وي چټ، انسټاګرام،کيوزون، ويبو، ټويټر، ټمبلر، بايدوټيبا، لينکډ اين، چټ جي پي ټي، يوټيوب، کيو کيو، کورا، ټيلګرام، وټسپ، سېګنل، لاين، سنپ چټ، پېنټرسټ،وايبرو ريډيټ، ډای سکورډ، وي کی، مايکروسافټ ټيمز...) او ګڼ شمېر نور برښنايي او ټولنيزې رسنۍ شته چې د ادب د ودې په برخه کې مهم رول لوبوي.

د انټرنيټ د ډرامتيکي پراختيا له کبله، ډيجيټل رسنۍ يا ډيجيټل بيانات (digital rhetoric) د يوه کلتور د استازيتوب يا پيژندلو لپاره کارېدای شي. دا ځېرل چې بيانات (rhetoric) څه ډول په ډيجيټل چاپېريال کې ځای پر ځای دي، د ډېرې پوهانو لپاره د څېړنو يو نوی او مهم بهير ګرځېدلی(۴)

**د ځينو برښنايي رسنيو لنډه پيژندنه**

د بحث د ښه وضاحت لپاره به دلته د ځينو برښنايي او ټولنيزو رسنيو لنډې پيژندنې او که اړينه وه په هره برخه کې به يې د ادبي ودې او پرمختګ په اړه هم بحث وکړو، چې دا برښنايي او ټولنيزې رسنۍ په لاندې ډول دي.

۱: راډيو: راډيو يوه مخابراتي ټکنالوژي ده، چې د راډيويي څپو په کارولو سره په اوږد واټن کې د آډيو سيګنالونو لېږد کوي.راډيو د غږ څپې په برښنايي سيګنالونو بدلوي او تر خلکو يې رسوي.راډيو له سلو کالو راپدې خوا د ساتيرۍ، خبرونو خپرولو، موسيقۍ، ادب او هنري برخو د لېږد وسيله ده.د راډيو دوديز شکل اوس په برښنايي يا ټکنالوژۍ بدل شوی چې ځنې ډولونه لري لکه:سپوږمکۍ راډيو او انټرنيټي راډيوګانې.راډيو په برښنايي رسنيو کې يوه اغيز ناکه وسيله ده چې د غږونو پر مټ د ادب ترڅنګ د ژوند د هرې برخې معلومات خلکو ته رسوي.

د راډيو د خپريدو ساحې پراخه دي او په هر ځای کې لکه په ( موټر، کور، حجره، لوړه او ژوره) کې د اوريدو وړ ده.راډيو د غږيز سيستم له لارې خپرونې وړاندې کوي. ( ۱ : ۱۱۵ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تلويزون ( TV) :** تلويزون الکترونيکي يا بربښنايي انځوريزه رسنی ده، چې له دې لارې د غږونو ترڅنګ انځورونه هم تر ليدونکو رسيږي.تلويزون په متحرکو ويډيوګانو تکيه کوي.د تلويزون په منځ ته راتګ سره د راډيو اوريدونکي کم شول او اکثره خلکو تلويزونو ته مخه کړه. دا انځوريزه برښنايي رسنی د خلکو د پام وړ وګرځېده.

تلويزون چې يوه برښنايي ټولنيزه رسنی ده له خپل اصلي حالت څخه بدله شوه او د انټرنيټ جال ته ورداخله شوه، چې له دې سره يې نور هم پرمختګ وکړ.په اوس وخت کې د تلويزون مختلف ډولونه دي لکه : انټرنېټي تلويزون ( IPTV)، چې د انټرنيټ په مرسته د نړۍ په هر ګوټ کې ليدونکي لري.بل ډول يې ويب تلويزون (web Tv) دی چې د يوټيوب په څېر په ويډيو شريکولو سايټونو کې اکاونټونه ورته پرانستل کيږي يا هم خپله ويب پاڼه ورته جوړيږي، چې د دې ډول تلويزون اغيز هم زيات دی.بل ډول يې ځيرک تلويزون ( smart tv) دی چې د ټکنالوژۍ او تلويزوني خپرونو په پراخيدو سره د تلويزونو بڼې هم بدلې شوې.چې سمارټ ټي وي يا درې بعدي تلويزونه هم رامنځ ته شول، چې دا هم د ټکنالوژۍ او برښنايي رسنيو لپاره ښه زيری دی. ( ۲: ۱۸۶)

**يوټيوب (You Tube) :** داسی يوه انټرنيټي پاڼه ده چې د هغه له لارې د ويډيو مينه وال کولای شي سينمايي فلمونه، ډرامې او يا هم پخپل لاس ترتيب شوي لنډ بصري کليپونه په وړيا توګه وګوري او له خپلو دوستانو سره يې شريکې کړي. دغه سايټ د ۲۰۰۵ کال د فبرورۍ په ۱۴مه د درې ځوانانو لخوا چې يې يو د بنګله ديش جاويد کريم وو، د کاليفورنيا د سان برنو په ښار کې د انټرنيټ له لارې رامنځته کړ، چې بيا يو کال وروسته يې د څه باندې يونيم مليارډو ډالرو په بيه د ګوګل په نړيواله شبکه وپلورله. يوټيوب تقريبا د نړۍ په ۷۶ ژبو خپروني کوي، نژدی يونيم زر تنه کارکوونکي لري او هره ورځ له يو مليارد څخه زيات ليدونکي لري. ( ۲)

**فيسبوک (Facebook) :** دغه انټرنيټي ويبپاڼه چې د مارک زوکربرګ او د هغه د درې تنو همکارانو لخوا په ۲۰۰۴ م کې رامنځ ته شو، نن د نړۍ په کچه د ټولنيزو رسنيو د پېټکي شمله ګڼل کيږي. په پيل کې يوازې د هارورډ د پوهنتون د محصلينو د درسي اړتياوو د پوره کولو لپاره ډيزاين شوی وه، خو ورو ورو يې نورو پوهنتونونو ته هم لاره پيدا کړه. ولی له شمالی کوريا پرته، نن د نړۍ په هره هغه سيمه کې چې انټرنيټ موجود وي، هلته به د فيسبوک مينه وال او کاروونکي په سترګو کيږي. مرکزي دفتر يې د کاليفورنيا په سانفرانسيسکو کې موقعيت لري او د رسمي او قراردادي مامورينو شمير يې له شلو زروڅخه اوړي. په فيسبوک کې هر ډول ليکني او بحثونه ترسره کيږي، چې له همدې لارې يې د ادب په وده کې مهم رول لوبولی دی.(۲)

**ټويټر (Twitter) :** د ټولنيزو رسنيو له مهمو څانګو څخه ګڼل کيږي چې د ۲۰۰۶ کال د مارچ په مياشت کې د سان فرانسيسکو په ښار کې د جک ډورسي او د هغه د درې تنو همکارانو په مټ د انټرنيټ له لارې خپل فعاليت پيل او په ډير لږ وخت کې يې د مينه والو شمير له دوه سوه مليونه څخه واوښت. نن په ۲۵ هيوادونو کې څانګې لري او ټول هغه معلومات يا پيغامون چې د ټکو شمير يې له ۲۸۰ څخه زيات نشي، په وړيا ډول خپروي. ټويټر يو له هغو مهمو رسنيو څخه ده چې د نړۍ ځواکمن سياسي مشران او هنري څېرې د هغه له لارې خپلې پاليسی او پرمختګونه اعلانوي. (۲)

**لنکد ان (LinkedIn) :** بله ټولنيزه رسنی ده چې د مايکروسافټ لخوا ۲۰۰۳ کال کې په کاليفورنيا کې رامنځ ته شو. معمولا تعليم يافته او مسلکي خلک خپلې کاري سابقې، سوانح او د خپل شخصيت ځنی ځانګړتياوې له سترو کمپنيو سره شريکوي ترڅو د مسلکي مهارتونو په چوکاټ کې د ځان لپاره مناسب کار پيدا کړي. د نړۍ۵۹۰ مليونه خلک يې استعمالوي چې يوازې ۱۵۴ مليونه يې امريکايان دي. (۲)

**انسټګرام(Instagram) :** د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کې د فيسبوک لخوا دوه تنه تکړه انجنيران وګمارل شول، چې دهوښيار ټيليفون له لارې دعکسونو او ويډيوګانو د شريکولو او خپرولو يوه نوې ويبپاڼه جوړه کړي. په لږ وخت کې دغه سيستم جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په تیرو اتو کلونو کې ددې رسنۍ له لارې د استول شوو انځورونو مجموعي شمیر له یو ملیاردو څخه اوښتی او هره ورځ نژدې ۱۱۰ ملیونه ګډون وال یو بل ته شخصي انځورونه او لنډ فلمونه استوي.

**پینټرسټ (Pinterest) :** دا انځوریزه رسنۍ د یوې خیالي لوحې په ډول ډیزاین شوې چې مینه وال یې پخپلو منځنو کې تصویرونه او ویډیوګانې شریکوي، خو شرط یې دادی چې ګډون وال باید ځان مخکې له مخکې ثبت او غړیتوب ولري. دا ویبپاڼه له ۲۰۱۰ کال راپدیخوا په کالیفورنیا کې فعالیت لري، هره ورځ په متوسط ډول یو اعشاریه دری ملیونه خلک ورته سر ورښکاره کوي، چې په حیرانیتا سره اویا سلنه یې میرمنې او دیرش سلنه یې سړي دي. (۳)

**سناپ چیټ (Snapchat) :** اوه کاله وړاندی د سانفرانسیسکو د سیمې د ستینفرډ د پوهنتون دری تنو محصلینو دغه ویبپاڼه جوړه او په ډیر لږ وخت کې یې په مفته توګه د انترنیټ له لارې د نړۍ په ۲۲ ژبو خپلې غزونې وکړې. دغه پروګرام دوه ځانګړتیاوې لري، لمړی دا چې د پیغام ترلاسه کوونکې یې د لیدلو او ملاحظه کولو لپاره یواځې شپیته ثانیې وخت لري او بیا په اتومات ډول ګل یا له صحنې پټیږي او بله یې دا چې دا سایټ همیشه ژیړ رنګ استعمالوي.

**فلیکر (Flicker) :** د انترنیټ له لارې د ګډو انځورونو، ویډیوګانو او تصویري پیغامونو پروګرام او ویبپاڼه ده، چې ازمیښتي دوره یې په ۲۰۰۴ کې د کاناډا په وینکوور او په منظم ډول فعالیت یې بیا د ۲۰۰۸ کال په مارچ کې د سانفرانسیسکو په ښار کې پیل کړ. نن د دی سایټ په ارشیف کې څه باندی پنځه ملیارده عکسونه او لنډې ویډیوګانې خوندي او په لږه موده کې یې د نړۍ سور او ساره سره وتړل. ولې باید وویل شي، چې یواځې د ځیرک ټلیفون، بلاک بیري او وینډوز له لارې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.(۷)

**ټیک ټاک**

ټیک ټاک یو اپلیکشن دی،چې په هغې کې کارکوونکې کولای شي وړې وړې ویډیو ګانې جوړې کړي او په مجازي نړۍ کې یې خپلو مینوالو ته ورسوي .په ټیک ټاک کې تر ډېره د پخلي،نڅا،ټوکې ټکالو او یا هم د ورځنې ژوند ځینې وړې صحنې ویډیو کېږي.لومړی یادې ویډیوګانې ثبت یا ریکارډ کېږي او بیا وروسته ورسره ساز یا موزیک ورزیاتېږي. د ټیک ټاک کارکوونکې دانستاګرام په څېر کولای شي لایک او کومنټ واخلي.د یادونې وړ ده،چې د ټیک ټاک اپلیکیشن په چین کې جوړ او په نړۍ راج کوي.

په اوس وخت کې ټیک ټاک د نړۍ تر ټولو خوښوونکې برنامه یا پروګرام دی.د انټرنیټ په نړۍ کې یې د ډېرو خلکو پام ځانته راګرځولی دی.ټیک ټاک تر دې دمه په امریکا کې ۸۰ اتیا ملیونه او په ټوله نړۍ کې ۸۰۰ اته سوه میلونه ډېر کارکوونکې او مینه وال لري.دا په داسې حال کې ده،چې په دې شماره کې د چین زیاتره وګړي نه دي شامل.د ( Sensor Tower) شرکت د معلوماتو له مخې د ټیک ټاک اپلیکشن په ۲۰۱۸ م کې د۲۰۱۷ م کال په پرتله درې برابره شوی دی.د ټیک ټاک برنامه په ۲۰۱۶م کال کې په فعالیت پیل وکړ،چې د انستاګرام او اسنپ چټ په پرتله یې د نړۍ وال بازار تبلیغاتي برخې پام هم ځانته را اړولی دی.همدا لامل دی،چې د نړۍ د ډېرو مشهورو فعالانو او ټولنیزو مشهورو څهرو لکه جیک پاول،جیمي فالن او ټوني هاوک پام یې ځانته اړولی او دوی هم د ټیک ټاک مینه وال شوي دي.د Apptopia شرکت د راپور له مخې ټیک ټاک په ۲۰۱۸م کال کې له فیسبوک،یوټیوب،اسنپ چټ او انستاګرام څخه ډېر زیات ډاونلوډ شوی دی.په ۲۰۱۸م کال د اګست په میاشت کې (بایټ دنس) چې د ټیک ټاک د شرکت جوړونکی دی د (Musical.ly) په نوم یو پروګرام یا برنامه چې په ۲۰۱۷م کال کې یې پیرلې وه په ټیک ټاک ورګډه ( مدغمه) کړه.همدا لامل وو،چې ټیک ټاک په امریکا او ټوله نړۍ کې د خلکو د پام وړ وګرځېدو.( ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پښتو ادب ته د ټیک ټاک ګټه:**

که څه هم مونږ مخکې په دې بحث وکړ،چې ټیک ټاک د ځوانانو دخوښیو یوه وسیله ده او په ټولنه کې ترې ډېرې ځوانان خپل ذوق خړوبوي.همدارنګه د پیسو او مارکیټ وسیله هم ده ځکه چې ډېر ځوانان د همدې لارې ډېرې پیسې ګټي او همدې ته یې کار ویلی دی.د دې ټولو خبرو سربیره پښتو ادب ته یې ګټه دا ده،چې په ډېرو کمو خبرو کې د طنز په ژبه یو انسان کولی شي خپله خبره زرګونو کسانو ته ورسوي.پخوا به طنز یا په کتاب کې ولیکل شو او همداسې به پاتې شو او یا به کله کله د سټیج په سر د څو کسانو په مخ کې یو څوک ودریده او خپلې خبرې به یې ورته واورولې،خو اوس د ټیک ټاک په مرسته هر څوک،هر چا ته خپله خبره او نیوکه په ډېرې اسانۍ سره کولی شي.همدارنګه پښتو ادب ته یې بله ګټه دا ده،چې لکه د ډرامې،تمثیلي ټوټې او نورو ژانرونو په څېر دا برخه هم مخ په غوړېدو ده او په څو ثانیو کې د مطلب خبره خپل مخاطب ته رسېږي.همدارنګه د ټولنې منفي او مثبتې خواوې هم په کې اصلاح کېږي.بله ګټه چې پښتو ادب او ژبې ته یې رسوي هغه دا ده،چې په نثر او نظم دواړو کې دا برخه غني ده،ژبه یې ډېره ساده،روانه او عام فهمه ده.هر څوک کولی شي تر خپلې سویې ترې برداشت واخلي.که په ټوله کې خبره راټوله کړو،د دې نوي اپلیکشن په رامنځ ته کېدو سره هم په ځوانانو کې تحول رامنځ ته شوی او هم یې پښتو ژبې ته په یو ډول نه یو ډول ګټه رسېږي،ځکه،چې دا ویډیو ګانې په ټوله نړۍ کې خپرېږي او هغه خلک چې پښتو نه پېژني هم ترې خبرېږي.د ټیک ټاک ځینې نورې بېلګې هم وړاندې کوو.

**چټ جي پي ټي روباټ:** چټ جي پي ټي د برښنایي رسنیو په برخه کې د یو روباټ په څېر کار کوي. دا روباټ د نورو په څېر نه دی، چې د لاسونو او پښو په مرسته خدمات وړاندې کړي بلکې د یو سافټویر په څېر خپل خدمات وړاندې کوي. چټ جي پي ټي د مصنوعي زیرکتیا یو موډل دی، چې کولی شي د یوه انسان په څېر خبرې اترې وکړي. یا د چټ کوونکي روبوټ نوم هم ورکولی شو، ځکه چې د انسانانو سره د پیغام بدلولو او چټ کولو توان هم لري.( Open Al) شرکت په ۲۰۲۲م کې دغه روبوټ طرحه او د همدې کال په نومبر میاشت کې ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړ. د چټ جي پي ټي ښه والی په دې کې دی، چې علمي او زده کړییز معلومات یې زیات دي. د علم په هره برخه کې وغواړې معلومات تر لاسه کړې، نو دا روبوټ درسره د معلوماتو په شریکولو کې مرسته کولی شي.د دغه اپلیکشن یا سافټویر په مرسته ادب ته زیاته پاملرنه شوې او د ادب په اړه ډېر معلومات وړاندې کوي. که له چټ جي پي ټي څخه هر ډول پوښتنه وشي خپله ځواب درکوي. دې ته ورته نور ډېر مصنوعي ځیرکتیاوې شته چې د ادب په وده کې مهم رول لوبوي.( ۱۱)

## پر پښتو ادبیاتو د برښنایي او ټولنیزو رسنیو اغېز

په ۲۰۰۰م کال کې د حامد کرزي د اداري پرمهال افغان رسنیو چټکه وده، تجربه کړه او په ټول هېواد کې په لسګونو تلویزیوني چینلونه تاسیس شول. په دغه تلویزیوني چینلونو کې، ژوندون، طلوع، د آریانا تلویزیوني شبکې، لمر، شمشاد او دولتي ملي راډیو تلویزیون شامل و. له دې سره څه باندې ۲۰۰ راډیویي چینلونه هم رامنځته شول، چې تر ۲۰۱۹ زکال پورې په افغانستان کې د رسنیزو بنسټونو شمېر له ۱۸۰۰ څخه واوښت. ټولو رسنیو د افغانستان د نوو قوانینو په چوکاټ کې وده وکړه، په داسې حال چې د خبریالانو ترمنځ د ځان سانسور کولو چارې شتون درلود. افرادو ته د سپکاوي او همدارنګه د اسلامي اصولو پر خلاف د مطالبو نشرولو لپاره جزا شتون درلود.( ۱۰)

په افغانستان کې په برښنایي او ټولنیزو رسنیو باندې د څار مسئولیت د اطلاعاتو او کلتور وزارت پر غاړه دی چې د دغه رسنیو په ډله کې راډیویي او تلویزیوني شبکې، ډیجیټل رسنۍ او چاپي رسنۍ شاملېږي. برښنایي رسنۍ تر ډېره پورې په پښتو او دري ژبو چې د افغانستان رسمي ژبې دي، خپرونې لري. په ۲۰۱۹ زکال کې راپور ورکړل شو، چې په افغانستان کې څه باندې ۱۰۷ تلویزیوني شبکې، ۲۸۴ راډیویي شبکې، له زرو زیاتې چاپي رسنۍ او څه باندې ۱۸۰۰ پرلیکه یا انلاین رسنیز بنسټونه موجود دي. ورته مهال د فیس بوک، انسټاګرام، ټویټر، ټیک ټاک، یوټیوب او نورو آنلاین سیسټمونو په مرسته د ډیجټل رسنیو شمېر مخ پر ډېرېدو دي. دا چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی، نو حتماً به په ځینو برښنایي او ټولنیزو رسنیو ځینې محدودیتونه وضع کېږي، تر څو د هغو خپرونو مخه ونیسي،چې د هېواد او اسلامي حدودو سره په ټکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې وي. چې له ۲۰۲۱م کال راهیسې په برښنايي او ټولنیزو رسنیو دا ډول بندیزونه لږېدلي،چې د هېواد د ملي ګټو او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر خپرونې خپرې نه کړي، که څه هم د ټولنیزو رسنیو محدودول مشکل کار دی.

د افغانستان لومړنی تلویزیوني شبکه په ۱۹۷۰مه لسیزه کې د جاپان په مالي مرستې په کابل کې جوړه شوه. دغه مهال مطبوعاتو په خپلو لیکنو او څرګندونو کې له دولت څخه خپلواکي لرله، خو لاربښوونه ورته شوې وه چې حکومتي ګټو، مشروطه سلطنت، اسلام او عامه نظم ته په خپلو خپرونو کې پام ولري. په داسې حال کې چې په افغانستان کې خبريالی له ۱۹۵۰مې لسیزې څخه تر ۱۹۷۰مې لسیزې وده وکړه، خو چارې یې لا هم محدودې وې. ( ۹)

رسنۍ چې په ټولنه کې د ټولنې په سیاسي، اقتصادي، امنیتي، ټولنیزو اړیکو، ادب، فرهنګ، کلتور او ژبې په غوړېدا، پرمختګ او وده کې مرسته کوي. د پښتو ژبې ادب هم ترې بې اغېزه نه دی. په تېره یوه نیمه لسیزه کې پر ادب د رسنیو اغېز خورا جوت او په ډاګه دی، راډیو، ټلویزیون، یوټیوب، فیسبوک، ټویټر... او دې ته ورته نورو برښنايي او ټولنیزو رسنیو د ادب د غوړېدا لپاره هغه څه وکړل، چې زه یې پښتو ادب کې انقلاب بولم.

که وکتل شي، نو په اوس وخت کې ډېرې ژباړې کېږي. د نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته، یا له پښتو څخه نورو ژبو ته، په دې ژباړو کې د رسنیو لویه ونډه ده. یو ژباړونکی کتاب د ویب سایټ او برېښنايي کتابتون په مرسته پیدا کوي او خپل کمپیوټر ته یې ښکته کوي، وروسته یې لولي او ژباړي یې، همدا ژباړه د کتاب په بڼه بېرته ټولنې ته وړاندې کوي او ادب ته یوه زیاتونه کوي. دغه راز راډیو ګانو هم پر ادب ژور اغیز کړی، د تېرو څو کلونو راهیسې نږدې هره راډیو کې ادبي خپرونې شته، چې لیکوال، شاعران، ژبپوهان او ادیبان پکې مېلمانه کېږي او خپلې تجربې تر اورېدونکو رسوي.

ښه بېلګه یې د ازادۍ راډیو (ازادی راډیویي مجله) ده، چې استاد اسدالله غضنفر مخته وړله، بیا ښه شاعر ومان نیازي او اوس اوس یې نور همکاران جوړوي. له یادې خپرونې ډېرې ادیبانو او لیکوالانو ګټه اخستې یا یې اخلي. ځکه دا خپرونه لکه د ادبیاتو پوهنځی، داسې مسایل پکې مطرح کېدل، چې لویو لویو لیکوالو ته مهم وو او هم نویو ادیبانو ته د روزنې یو ادرس و. د دې ترڅنګ د بي بي سي راډیو (پیلوزی) ادبي پروګرام چې ښاغلي مصطفی سالک مخته وړله. هم یې د ادب په غوړېدا کې لویه ونډه لرله او هم د لویو لویو لیکوالو له تجربو خبر شولو او دا دی اوس د دې جوګه یو چې یو څه ولیکو.

یا د بي بي سي راډیو د نوي کور او نوي ژوند ډرامه چې د ادب برخه ده، ډېره په زړه پورې ده او د افغانستان د حالاتو او کلیوالي ژوند سره برابره پر مخ ځي.

دغه راز مجلو کې ادب ته ګڼې لیکنې خپرې شوې، تحقیقات وشول، د منځنۍ دورې ځینو شاعرانو لکه خوشال خټک او یو شمېر نورو باندې څېړنې وشوې چې په راډیویي ادبي مجلو او خپرونو کې بیا بیا خپرې شوې. د پورته خپرونو ترڅنګ په محلي کچه هم راډیوګانو د ادب په وده کې ونډه درلوده، لکه په ننګرهار کې مرام راډیو، شرق، ملي، انعکاس او صفا راډیو، دا هغه راډیوګانې دي چې د پښتو ادب لپاره یې ډېرې ادبي خپرونې وړاندې کړې، په نورو ډېرو ولایتونو کې دې ته ورته راډیوې ګانې او په هغوی کې ادبي خپرونې وړاندې شوې دي.

ټلویزیونو کې ګڼې ادبي خپرونې ثبت شوې، ځینې خپرونې د ادب په اړه چمتو شوې، دغه راز لوی لوی لیکوال دا اوس هم ټلویزیونونو کې مېلمانه کېږي او د لیکوالۍ، ادب او د ژبې د غوړېدا لپاره طرحې، مشورې او وړاندیزونه کوي.

ځینې ټلویزیونونه خو مو یو مخ ادبي، هنري او کلتوري خپرونو ته ځانګړي دي چې په دې برخه کې تر ډېره، ژوندون تلویزون، ،شمشاد ټلویزیون،او پښتو ټلویزیون ادب په وده کې رول لوبولی دی.

ویبپاڼې هغه ادرسونه دي چې د ادب په اړه پکې نن سبا ګڼ مطالب موندلی شو، اوس چې هر لیکوال کومه مقاله، کتاب، رساله او یا هم لیکنه وکړي حتمي یې یو ویب سایټ کې خپروي، په دې برخه کې تر ټولو لویه ونډه (تاند، لومړیتوب، روهي، ټاټوبی، بي بي سي، پژواک، اوځني ویبلاګونه ... ) او یو شمېر نورو ویب پاڼو اخیستې، چې د لیکوالو لیکنې، مقالې او کتابونه خپروي.له نېکه مرغه اوس د پښتو ادب ډېر زیات کتابونه په برښنايي یا ټولنیزو رسنیو موندلی شو، چې د همدې ټکنالوژۍ برکت دی، چې پښتو ژبه او ادب د نړۍ تر ډېرو برخو ورسیدله.

نو ویلی شو، چې د ادب په وده کې ټولې برښنايي او ټولنیزې رسنۍ مهم رول لري او له ګټو یې سترګې نه شو پټولی.

د کلونو په اوږدو کې، د ادبیاتو د وړاندې کولو وسیله د نوي ټیکنالوژۍ په شتون سره وده کړې. په تېرو سلو کلونو کې یو له خورا مهمو پرمختګونو څخه برېښنايي رسنۍ دي. همدا برښنايي رسنۍ دي، چې ادبیات یې نه یوازې د پابند کتاب په توګه وړاندې کړي بلکې غږونو او ویډیوګانو په بڼه یې هم خلکو ته رسولي. همدا برښنايي رسنۍ دي، چې په نړۍ کې له هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي تحول، چاپ شوي ادبي کتابونو او نورو برخو څخه مو خبروي. که وغواړی نوی چاپ شوی کتاب تر لاسه کړی، نو حتماً یي په یوه نه یوه برښنایي کتابتون کې کتلی شی، چې دا د ادب د ودې ښه بیلګه ده.
که دا برښنایي رسنی سلګونه کلونه پخوا موجودې وای، نو نن به مونږ د خپل لرغوني ادب او تاریخ څخه ښه خبروای. د « سالو وږمې او خدایي مینه، د امیر کروړ یاد» او دې ته ورته نور معلومات او اثار به مو په سمه توګه خوندي وای. هر څه به مو په برښنایي او ټولنیزو رسنیو کې خوندي وای.د همدې برښنایي رسنیو ګټه ده، چې د نن ادب پرمختګ به راتلونکي نسل ته په میراث پاتې شي.
ټولنیزې رسنۍ ډېرې ګټې او زیانونه لري. ګټې یې ډېرې دي، خو دلته به پرې لنډې خبرې وکړو. ټولنیزې یا برښنایي رسنی لیدونکو، اوریدونکو او لوستونکو ته د ادب په برخه کې ډېر نوي معلومات ورکوي. د همدې رسنیو له لارې ډېر نوي او پخواني مواد لیدلی او اوریدلی شو او هم یې لوستلی شو. پخوا به ډېر په مشکله یو کتاب چاپ شو او خلکو ته به په ډېرو مشکلاتو ورسید. کره والی یې معلوم نه و.کتاب ترلاسه کول د هر چا د وس کار نه و، خو د همدې برښنایي رسنیو په راتګ سره دا کار ډېر اسانه شو، اوس هر څوک، هر چیرته چې وغواړي د خپلې خوښې ادبي، ټولنیز او معلوماتي کتابونه ترلاسه کولی شي. برښنایي رسنۍ یا ټولنیزې رسنۍ د لوی دریاب په څېر شوې دي. هر څه چې وغواړی ترې یې رانیولی شی. کله چې غږیزې رسنۍ پیدا شوې، نو د خلکو ادبي تنده د غږ له لارې ماته شوه. په مختلفو غږیزو رسنیو کې ادبي، کلتوري او فرهنګي خپروني پیل شوې. د هېواد په لرې پرتو سیمو کې هم خلکو دې ته لاس رسی پیدا کړ. له همدې غږیزو رسنیو به ناولونه، لنډې کیسې، داستانونه او شعرونه خپریدل، چې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې به هم ترې خلکو ګټه اخیستله. ادب ته یې ډېره ګټه وکړه او ځوانان یې لیکلو ته وهڅول.
خو کله چې انځوریزې رسنۍ منځ ته راغلې، ادب ته یې نوره هم ګټه ورسیده. په تلویزوني خپرونو کې لیکوال، ادیبان او شاعران ملیمانه شول، خپل اولس ته یې په انځوریز شکل ډېر څه ورسول، خلکو سره د کتاب د مطالعې مینه پیدا شوه، ځوان لیکوال وهڅېدل چې لیکنې وکړي او په انځوریز ډول یې خلکو ته ورسول شي، چې دا هم د برښنایي او ټولنیزو رسنیو ګټه وه. د وخت په تېریدو سره برښنایي رسنیو ربښې وغزولې او په ټولنیزو رسنیو ورګډې شوې. فیس بوک جوړ شو، خلکو په کې په پراخه کچه برخه واخیسته. دیني، ادبي، فرهنګي، ټولنیزې، سیاسي ، اقتصادي، روغتیایي... او نورو برخو کې خلکو ته معلومات لاس ته ورغلل. هر ځوان غوښتل څه ولیکي او خلکو ته یې وړاندې کړي.
د فیسبوک سره جوښت یوټیوب مخه خلاصه کړه او خلکو ته یې د نورو ډېرو معلوماتو تر لاسه کولو مخه ورکړه. په ویډیي ډول، چې د نړۍ د هر پرمختګ او ودې په اړه وغواړی معلومات تر لاسه کړی، نو یوټیوب به درسره مرسته وکړي. همدارنګه انستګرام، ټلګرام، ټویټر، ټک ټاک، مسنجر، فیس بوک.... او دې ته ورته په لسګونو نورې ډېرې برښنایي او ټولنیزې رسنۍ دي، چې د ادب په پرمختګ او وده کې یې ډېره ګټه کړې او مهم رول یې لوبولی دی، خو د ټولنیزو رسنیو یوه ګټه دا هم ده چې لیکوالان او شاعران یې سره نږدې کړي دي. دوی په اسانی یو بل سره اړیکه لرلی شي.څه وخت وړاندې د کرکټنې او ادبي مسایلو اړوند فېسبوک ګروپ جوړ شوی و. هلته به ډېر داسې بحثونه کېدل چې شاید د ادبیاتو د فاکولتې په یوه ټولګې کې هم ونه شي. ښه والی یې دا هم و چې هر چا هر وخت خپله خبره کولی شواى. زه چې څومره ادبي غونډو ته تللي یم هلته مشخص خلک غږېږي یو خو په دې لحاظ چې مشران دي او د خبرو لومړیتوب لري، بل وخت نه وي چې هر څوک خبرې وکړي.
دا، چې د برښنایي او ټولنیزو رسنیو ګټې ډېرې زیاتې دي، دلته یې د ډېر بحث کول لوستونکي ستړي کوي، نو په همدې به بسنه وکړو. د ژوند په هره برخه کې هر شی ګټې او زیانونه لري، کله به یې ګټه ډېره وي او کله زیان، دا چې د برښنایي او ټولنیزو رسنیو پر ګټو مو خبرې وکړې، اوس به یې پر زیانونو هم څو ټکي ولیکو.
د ټولنیزو شبکو یو ناوړه اغیز یې ممکن دا وي چې د ښې او دقیقې مطالعې وخت او حوصله داسې زبیښې لکه لمر چې په ګل پرخه وچوي. ډېر کله داسې هم کېږي، چې د کتاب لوستلو وخت هم له سرې اخلي.لوستلو یا مطالعې لپاره وخت کم شي. که څه هم ټولنیزې یا برښنایي رسنۍ هم د مطالعې ښه وسیله کېدای شي یا د معلوماتو راټولو ښه وسیله شي، خو د فزیکي کتاب د مطالعې څخه لوستونکی را وګرځوي. دا چې خلکو ژر، ژر لوستل، لیکوونکي یې وهڅېدل او دومره یې ولیکل چې بیا یې له ځینو خپله هم لار ورکه کړې وه. پخوا به د هغوی لیکنې چاپېدې چې نوم به یې درلود.ګومان کوم سختـه به وه چې هر څوک دې خپله خبره تر نورو ورسوي. خو دې رسنیو همدا مرسته هم کړې چې هر څوک لیکل کولی شي او هر څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې لوستلی هم شي. بل زيان يې دا دی، چې د ټولنيز ژوند رنګ يې پيکه کړ. د خلکو سره راشه درشه کمه شوه. په ادبي او فرهنګي غونډو کې راټوليدل کم شــول، ځوان نســل په الکترونيکي يا ټولنيزو رســنيو کې دومره غرق شــول، چې له ډېرو کارونو يې منع کړل، خو له دې ټولو سره سره بيا هم برښنايي او ټولنيزې رسنی د داب د خپراوي لپاره ډېر ګټور تمام شو او د نړۍ د هرې ژبې او قوم څخه يې بل خبر کړل.پښتو ژبه يې يې عامه کړه، ګوګل ته يې وردننه کړه او په شرق او غرب کې خلک په دې خبر شـول، چې پښـتو ژبه او ادب هم ډېر څه لري او په لوسـتلو ارزي. خو يوه بله سـتونزه چې زما په نظر ډېره جدي ده هغه دا ده چې دلته څوک د خبرو مسـووليت نه احسـاسـوي.کله چې څوک دا احسـاس وکړي چې د يوه توري، کليمه او کرښـــه چې زما له ادرســـه خپرېږي مســـووليت يې زما دی، ډاډه يم ډېر به غلي شـــي.دا چې دوی د خپلې خبرې مسـووليت نه مني ، نو عموما داسـې مسـايل ترې ليکل کېږي چې يا ځان يا نورو ته تاوان رسـوي.که څه هم ټولنيزې رسـنی شايد ښه موضوع ليکلو ته راکړي، خو ډېر کله مو د يوې ښې ليکنې تلوسه هم په اوبو لاهو کوي. په هر صورت برښنايي او ټولنيزې رسنی د ګټو او زيانونو سره سره که ښه وکارول شي، نو ګټه يې ډېره ده. هغه پښتو لنډۍ ده چې وايي:

په سور سالو کې ګناه نشته
ګناه جنۍ کې ده چې رنګه بنګه ځينه

**پايله**

د دې مقالې يا ليکنې عنوان دی( د ادبياتو په وده کې د برښنايي او ټولنيزو رسنيو ونډه) د انسان ژوند له يوشتمې پيړۍ را په ديخوا داسـې مرحلې ته داخل شـو، چې هرې نوې پديدې ته يې تلوسـه زياته شـوه. انسـان ورځ تر بلې د عصـريتوب او ترقی خواته مخه کړه. د ژوند په هره برخه کې بدلونونه راغلل، د نورو ټولو برخو ترڅنګ ژبې او ادب هم په دغه ځغل کې شريک شو او اړتيا پيدا شوه، چې پرمخ ولاړه شي. له کله نه چې برښنايي او ټولنيزو رسنيو د انسانانو ژوند ته مخه کړې ده، په هره برخه کې پرمختګونه رامنځ ته شـوي دي.په زرګونه ادبي کتابونه، مقالې، ناولونه، لنډې کيســې، اشــعار، ديوانونه، نثري ليکنې، ډرامې، تمثيلي ټوټې او صـحنې هم د همدې رسـنيو له لارې د خلکو غوږونو ته ورسـېدې، خلکو احسـاس کړه، چې له نوي ټکنالوژۍ څخه ګټه واخلي او هغه څه چې په حضوري ډول له بازاره نه شي تر لاسه کولی د همدې برښنايي او ټولنيزو رسـنيو په مرسـته تر لاسـه کړي. د فيس بوک په مرسـته ادبي خپرونې وړاندې کېږي، په يوتيوب کې غږيز کتابونه ترلاسه کيدلی شي، په ټک ټاک او نورو برښنايي او ټولنيزو رسنيو کې په زرګونه وړې او غټې تمثيلي ټوټې، ادبي او ژبنيز کتابونه، مقالې او رســالې موندلی شــو. د نوي عصــر او نوي ټکنالوژۍ ســره ژبې هم وده وکړه او ادب هم پرمخ ځي. په سلګونو نور داسې برښنايي سافټويرونه دي، چې د ګرامر د اصلاح لپاره کارول کېږي، معلومات ترې ترلاسه کېږي، نو په لنډه ويلی شـو، چې برښـنايي او ټولنيزې رسـنۍ د ادب په وده کې مهم رول لري چې ورځ تر بلې يې ګټه زياتېږي او خلک ترې ګټه اخلي.

**سرچينې**


۱: سرور مياخيل، سخي.( ۱۳۹۳ل). تلويزوني ژورناليزم، مومند خپرندويه ټولنه – جلال اباد.

۲: سهار، نذير احمد.( ۱۳۹۲ل). تلويزوني خبريالي، اسد دانش خپرندويه ټولنه، کابل.

2: Artificial intelligence.2015

3: http://creativecommons.org/licenses

4: http://www.joell.in

5: https//www.plaza.ir/mag

6: https://doi.org/10.18261/ISSN1891-943X-2015-Jubileumsnummer

7: https://fbinpashto.wordpress.com

8: https://ps.wikipedia.org/wiki

9: https://tolonews.com/afghanistan/

10: https://www.ariananews.af

11: https://www.researchgate.net/publication/359132710

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**